DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال ششم شماره ۵۳
شماره مسلسل ۹۲۰
یکشنبه ۹ دلو ۱۳۸۴ هش
۲۹ ذوالحجه ۱۴۲۶ ه ق
29 January, 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC

## کرزی :

# تر ۱۰ کالو پورې بهرنيو پوځونو ته اړ يو



ولسمشر حامد کرزي وويل هيواد يې ښايي له پنځو نه تر ۱۰ نورو کلو بهرينو پوځيانو ته اړتيا ولري چې ترهګر او ياغيان وځپي.

هغه چې د سويس په داووس کې د نړۍ په اقتصادي جرګه کې غږېده، وويل ځانمرګي بريدونه اوس هم د هيواد لپاره د اندېښنې وړ موضوع ده.

هغه وويل چې طالبانو ته له بهر نه مرسته راځي خو نه پوهېږي چې تر شا يې څوک ولاړ دي.

ښاغلی کرزی به له سويس او ډنمارک څخه وروسته لندن ته ځي چې د افغانستان په باب د يوه کنفرانس مشري وکړي. د لندن کانفرانس چې د جنوري په ۳۱ او د فبروري په ۱ نېټه کيدونکی دی د ملګرو ملتونو د سرمنشي کوفي عنان او د برتانيا د لومړی وزير توني بلير په ګډون به يې ښاغلی کرزی مشري کوي. د متحدو ايالاتو له خوا به د بهرنيو چارو وزيره کانداليزا رايس په دې کانفرانس کې برخه اخلي. ٤ مخ

## دستگیری یک تن اختطاف کننده

یک تن به اتهام اختطاف یک دختر ۱۳ ساله از سوی پولیس بازداشت شد به گفته عبدالجمیل کوهستانی مدیر جنایی قوماندانی امنیه کابل این شخص در حالیکه میخواست این دختر را به بیرون از کشور ببرد از سوی پولیس دستگیر گردید از نزد این فرد کارت هویت که مربوط رژیم طالبان است به دست امده است اقای کوهستانی میگوید که این موضوع ارتباط شخص را با گروه طالبان نیز میرساند.

## دفاع رید از حضور نیروهای بریتانیا در افغانستان



GETTY IMAGES

جان رید، وزیر دفاع بریتانیا، از اعزام ۳۳۰۰ نیروی بریتانیایی به افغانستان دفاع کرده است. اعزام این نیروها بخشی از طرح گسترش عملیات پیمان آتلانتیک شمالی (ناتو) در افغانستان است. ص۴

## دريو ښوونځيو ته اور واچول شو

د هلمند په ولايت کې دمخالفو وسله والو له خوا درو ښوونځيو ته اور واچول شو او وسوځيدل په درې وارو ښوونځيو کې په سل ګونو ماشومانو زده کړې کولې ديوه ښوونځی اور تر سهاره بل و او په خپله زده کوونکو پرې اوبه واچولې ۴ مخ

### سرمقاله

## د اولسونو بې توپيرۍ او دتخريبي فعاليتونو زياتوالی

مورږ په خپل هيواد کې اوږدې تپل شوې جګړې تيرې کړی دی چې زمورږ دژوندانه ټول بنسټونه او په تيره بيا تعليمی سيستم يې زيات له منځه وړی. چې دجګړو دوخت ځوانان مو بې سواد او بې علمه پاتې شول مورږ دجګړه ييزو کلونو په اوږدو کې هم وليدل چې دبهرنيو په ځانګړو سفارشونو ښوونځيو ته اور اچول کيده او ځوانان مو له تعليم څخه بې برخې کيدل

خو اوس چې له اوږدو کشمکشونو اوله جګړه ييزو شرايطو څخه په نسبی توګه راوتلی او دبن د جرګې پريکړې هم په خپل وار عملی شوی دمرکزی ادارې ورځ په ورځ په زياتيدونکی پياوړتيا له ويرې دپرونيو بهرنيو دوستانو! په لمسون تخريبی عناصر هڅول کيږي چې دپرون په څير په هيواد کې دتعليمی مرکزونو دودې او پرمختګ مخه ونيسې او د اور په لمبو کې يې وسوځوی چې دسږ کال په اوږدو کې د هيواد په بيلابيلو ولاياتو کې دتخريبی عناصرو له خوا د ښوونځيو دسوځولو شاهد يو اصلی خبره په دې ده چې دا به د دولت لپاره ډيره له ستونزو ډکه وي چې دهيواد په هره برخه کې دهرڅه دساتنې لپاره خپل ځواکونه ودروی او خلك دتخريبی عناصرو په وړاندې داوس په څير په بی توپيرۍ کې ژوند وکړی او په نتيجه کې دتخريبی عناصرو دتخريب لپاره زمينه برابره شي.

که چيرې حالت همداسې په بې توپيری کې روان وی ويلای شو چې دهرې ورځې په تيريدو سره به دتخريبی عناصرو دتخريب لپاره لازياته زمينه برابره شي او مورږ به په هيواد کې دلا زياتو وژنو ويرې اچونو سوځولو او تښتونو ليدونکی شو چې مادی او معنوی زيانونه به يې له جبران څخه وتلی کار اوسی نو دا رامنځته شوو ستونزو دحل لپاره تر دولت زياته په کورنيو او دسيمو په اوسيدونکو باندې ده چې په خپلو سيمو کې دټولو دولتی تاسيساتو او په تيره بيا دښوونځيو دساتنې په برخه کې په نوبت سره قومی ډلې جوړې کړی او په خپلو سيمو کې شکمن کسان دامنيتی ځواکونو په لاس دتورونو پاکولو په خاطر وسپاري چې دسترو ولسونو ترمنځ دتخريب او تخريب کارو لپاره زمينه برابره نشي.

# قطع راه هاي مواصلاتی در ولایت بدخشان

راه چندین ولسوالی در ولایت بدخشان مسدود شده است بارش سنگین برف درین ولایت مشکلات عبور و مرور را برای مردم بدخشان بوجود اورده است. برف سنگین ادامه بارنده گی و شدت سرما طی سه روز متواتر در ولایت بدخشان باعث مسدود شدن راه های مواصلاتی و یخ بندان درین ولایت شده است در حال حاضر فقط راه دو ولسوالی در مسیر شاهراه فیض اباد تالقان و فیض اباد بهارستان بروی ترافیک باز است راه ۲۵ ولسوالی دیگر به اثر ضخامت برف قطع شده است ص۴

## ولسي جرګې
## دکابل پوهنتون يوه پريکړه و نه منله

پرون د ولسي جرګې غړو درايو په غوڅ اکثريت د کابل پوهنتون د هغه پريکړې مخالفت وکړ کوم چې د څو پوهنځيو د له منځه وړلو او يا ګډولو پريکړه يې کړې وه. ولسي جرګې پريکړه وکړه چې چاته به ددې اجازه ور نه کړي چې د. پوهنتون په نصاب کې دا رنګه لاس وهنې وکړي. جرګې دا هم وويل که پوهنتون په دې اړه هر څه ويل لري ولسي جرګې ته د مراجعه وکړي

## دشهيدعبدالحق پنځم تلين ونمانځل شو

دهيواد دوتلی او نامتو شهيد قوماندان عبدالحق د شهادت پنځم تلين پرون دننګرهار ولايت دسره رود په ولسوالی کې دقران عظيم الشان په ختم او دعا ګانو سره ونمانځل شوه.

د ارادې ورځپانې خبريال دننګرهار د سره رود له ولسوالی څخه خبر راکړ چې په هغه غونډه کې چې له دې امله جوړه شوې وه نامتو عالمانو، سپين ږيرو مخورو او دشهيد دوستانو او ملګرو ګډون کړی وو.

ددغه تلين ترتيبات دشهيد دکورنی له خوا نيول شوی وو او دهغه روح ته ددعاوو په کولو سره پاتی ته ورسيده.

## افغان الوتکې په پېښور کې ناسته کړې

دآريانا افغان هوايي شرکت يوه الوتکه په کابل کې د خرابې هوا او دواورې د سخت اورښت له کبله د پاکستان د پېښور په هوايي ډګر کې ناسته کړې ده مخ

## امريکايي سرتيري له بنديانوسره په بدچلند محاکمه کيږي

دامريکايي ځواکونو له اړخه په خپرې شوې خبرپاڼه کې راغلي چې ددغو ځواکونو يو سرتيری جيمس ارهايس په ارزګان کې دبنديانو دنيولو پرمهال چې تور دی نومړی تيرکال دجولای په مياشت کې بنديان دبطريو له لارې ځورولي له يو بل ملګري ماريک سره يوځای په باګرام کې ددغو ځواکونو په نظامي اډه کې محاکمه شي. په دريم سرتيري هم ورته تور دی

محاکمه پرون جمعه پيل شوې او تر دوشنبې پورې به دوام لري.

## توزیع پول نقدبه معلولین بامیان

در پی شکایت معلولین در ولایت بامیان یک مقدار پول به انها توضیح می شود معلولین در بامیان به کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان شکایت کرده و خواستار رسیده گی بیشتر مسوولین وزارت امور شهداء و معلولین به انها شده بودند ریاست امور شهداٴومعولین در بامیان عملاً بیشتر از ۲۵۰۰ افغانی پول توضیح کرد.

# تشکیل گروپ های پارلمانی تهدیدی در برابر وحدت ملی

**بشیر هاتف**

پارلمان نوپای افغانستان در روز های نخست اغاز فعالیت خویش فیصله بعمل اورد که اعضای ولسی جرگه میتوانند به گروپ های مشخص تقسیم شوند تعدادی ازاعضای شورای ملی که میدانستند خود در راس گروپ ها قرار گرفته و سود سیاسی بدست اورند، از ین اقدام جانبداری نموده وانرا گامی بسوی تسریع کارو کوتاه شدن بحث های طولانی در پارلمان کشور خواندند.

درین امر تردیدی وجود ندارد که هر گاه به جای ۲۴۸ عضو پارلمان ده و یا پانزده تن ان فرصت مباحثه و گفتگو پیرامون مسایل مطرح بحث در مجلس را دریابند، از ائتلاف وقت و به دراز کشیدن گفتگوها در شورای ملی جلوگیری خواهد شد اما این امر مشکلات و دشواری هایی را در پی خواهد داشت که نه تنها پیچیدگی و ابهام در امور پارلمانی را به مراتب بیشتر می سازد بلکه وحدت فکری و عملی را در سطح پارلمان و تمام کشور به مخاطره می اندازد که در همه عرصه ها قابل برشماری میباشند.

۱- گروپ بندی های مذکور در داخل پارلمان طوریست که اعضای پارلمان به اساس علایق حزبی دور هم امده و تعدادی از نمایندگان منتخب مردم در بدل کسب امتیازاتی شامل ردیف بندی های مذکور میگردند. این امر نمایندگی مردمی اعضای ولسی جرگه را به نمایندگی حزبی تبدیل نموده و درونمایه گفتگوهای شورای ملی را دگرگون می سازد بدین معنی که نماینده های گروپ های پارلمانی از خواست ها ومشکلات مردم نه بلکه از دیدگاه های سیاسی احزاب صحبت خواهند کرد. این امر ازیک طرف تقابل دیدگاه های فلسفی و سیاسی دیروزی را دوباره تازه نموده و از سوی دیگر مجالی برای مطرح شدن مسایل مربوط به ملت را نداده و سبب ایجاد فاصله میان مردم و پارلمان میگردد. به ویژه اینکه جریان انتخابات پارلمانی و دستبردهای اشکار در ان اعتماد مردم را نسبت به پارلمان خیلی ها تضعیف نموده و پارلمان کشور برای دریافت جایگاه خویش منحیث شورای بزرگ ساخته شده از نماینده های مردم افغانستان نیاز دارد تا با پیش گیری شیوه های معقول و مورد پذیرش برای مردم افغانستان رنگ ملی خویش را اختیار نماید.

۲- تعداد قابل ملاحظه از نماینده های مردم در ولسی جرگه که مربوط نهاد های سیاسی نبوده و بصورت انفرادی به پارلمان کشور راه یافته اند با این شیوه مجبور خواهند شد با جریانهای سیاسی که ابتکار تشکیل گروپ های پارلمانی را در دست دارند، پیوسته و دیدگاه هایی مردمی خویش را به دیدگاه های حزبی تبدیل نمایند که این امر مخالف معیار های دموکراسی و حقوق بشر یست.

۳- تقسیم بندی های سیاسی در پارلمان روحیه اشتی و تسلیم پذیری در برابر نظریات یکدیگر را از میان برده و رسیدن به اتفاق نظر میان اعضای ولسی جرگه را دشوارمی سازد زیرا در ینصورت موضعگیری های حزبی اغاز یافته و با در نظر داشت تاثیر پذیری های احزاب سیاسی ازمنابع داخلی خارجی پارلمان را به صنحه رقابتهای داخلی و خارجی تبدیل. خواهد کرد بدین ترتیب باید انتظار انرا داشت که مباحثات پارلمان به ویژه پیرامون مسایلی که احزاب سیاسی در مورد ان نظریات همسان ندارند مدت ها ادامه یافته و سبب ایجاد بن بست در کار شورای ملی گردد.

۴- تقسیم بندی های سیاسی در پارلمان که مرکز تجمع نماینده های منتخب مردم بوده و تمثیل کننده وحدت ملی درمیان اقشار و طبقات مختلف جامعه میباشد سبب برهم خوردن وحدت در سراسر کشور خواهد شد زیرا احزاب سیاسی هر کدام از خود در خارج از پارلمان نیز متحدین و هوا خواهانی داشته و این هوا خواهان به پشتیبانی از نظریات انها به پاخواهند خواست.

۵- نکته ا یکه از همه موارد یاد شده مهمتر بوده و بر روی مفکوره تقسیم پارلمان به گروپ های سیاسی خط بطلان می کشد اینست که تشکیلات حزبی سیاسی، تشکیلات غیر دولتی بوده و بیرون از چهار چوب دولت میتوانند فعالیت داشته باشند. در حالی که پارلمان یک تشکیل دولتی بوده و یکی از قوه های سه گانه دولت میباشد. تشکیل گروپ های حزبی در داخل پارلمان سبب مغالطه در کارهای دولتی و حزبی گردیده تشکیلات بزرگ و پراهمیت دولتی را در خدمت فعالیت های سیاسی غیر دولتی قرار میدهد که این امر با مفردات قوانین جاریه در کشور نیز موافق نمی باشد.

---

# کادر های مسلکی مشعلداران نوسازی جامعه!

**مولا داد "سهیم"**

یکی از اقشار برازنده و ممتاز لایه اجتماعی جامعه متخصیصن کادری یا کادر های علمی مسلکی میهن است که به مشابه قطب نمای مسیر حرکت بصوب اعمار مجدد و مشعلداران رهیابی سمت نوسازی کشور محسوب می شوند. عدم وجود فکری فزیکی کادرهای مسلکی در شرایط نهایت حساس تاریخی که ضرورت مبرم حیات ملی ایجاب می نماید نه تنها شرایط لازم و ضروری امکانات بالقوه قدرت پوتانسیل انسانی در راه نیل به حصول افتخارات علمی را شدیداً متضرر میسازد بلکه کشور جنگ زده مان را نیز براستای جهش مذبوحانه فرسایشی افول تابش نور افگن رد یابی محور کمیات وضعیه توسعه و انکشاف فرهنگی ملی تاریخی سوق خواهد داد! شکی نیست که پروسه طولانی جنگ های انحصار صفتانه در ردیف سایر منابع زرخیز و داشت های ملی نیروهای مبتکر و خلاق معنویت جامعه را نیز در کام موج شعله های خون و اتش به خاکستر مبدل نمود ولی اکنون که ملت عزیز و سلحشور افغان مجداً از عمق گرداب متعفن جنگ قدرت سربلند نموده و به همیاری مجامع بین المللی در جهت مختلف به اعمار مجدد و نوسازی جامعه کمر بسته و مردانه وار همت گماشته اند به معیار نخستین شرایط تامین صلح با ثبات و فراگیر میهنی عدم توجه عاجل و جدی با انسجام مجدد صنوف انرژی میخانیکی امکانات روشنگرانه و خلاقانه علمی کادر های متخصص علمی مسلکی نباید هرگز ساده لوحانه و ابلهانه حتی توقع وتصور تسخیر قله های شامخ افتخارات نوسازی جامعه را در سر پرورانید. زمینه سازی بازگشت مجدد کادر های مسلکی به میهن توجه علمی به بهبود وضع فلاکت بار اقتصادی نیروهای کادری فقر زده و سپردن کار به اهل کار ملت را به سر منزل مقصود نیل به اهداف ملی موفق میسازد.

---

# د افغانستان کانی موادو ته ولی پاملرنه نه کیږی!

**عبداللطیف "منت یار"**

د افغانستان غرونه به عمومي توګه په کانی توکو او ځنګلونو باندی ډك دي. په کانی توکو کې اوسپنه، مس، طلا، نقره د ډبرو سکاره نفتی مواد، یاقوت لاجورد زمرد او داسی قیمتی ډبری شاملی دی خو په ځنګلونوکې لرګي، جنغوزی، چارمغز، املوك، مومانۍ رواش او داسی نور خوراکی مواد په زیاته پیمانه لیدل کیږی چې په خواشینی سره باید ووایو چې د خلکو دخپل سری د لاسه یې هر څه تالا ترغی شوی او د غرض نه ډکی خیټی وربانـدی ډکی شوی دی چې هغه یې په بی رحمی سره له منځه وړی او خپلی چړچی وربانـدی جوړی کړی دی چې نن ورځ زیاتی کورنی پری ودانی دی او له دی لاری نه یې په قاچاقی توګه زیاتی ګټی تر لاسه کړی دی.

دا چې کانونه او ځنګلونه د ټول ملت مال دی او بیت المال ته منسوبیږی او دولت یې په ساتنی ځارنی او پالنه یې مکلفیت لری نو بیا خو په کار داده چې په دي برخه کې د دولت پاملرنه زیاته شی او هغوی چې په خپل سری سره خپلی خیټی پری ډکی کړی وی باید مخه یې ونیسی او یا یې د خپلو اعمالو په سزا باندی ورسوی.

د خپل سریو په وړاندی د دولت جدی اقدامات ددی زمینه برابروی چې د خپل سریو په شمیرنه کې کموالی منځ ته راشی او یا په عمومی توګه د غرض لاسونه په عمومی توګه تری لنډ شی. خو موږ په دی نه پوهیږو چې د کانی توکو په نه را سپړلو کې ولی دناغیړی څخه کار اخیستل کیږی او د هیواد د چارواکو له نظره پټ پاتی دی حال دا چې د هیوادونو د اقتصاد د پیاوړتیا مهم عوامل په همدی کې نغښتی دی.

د کرنی وزارت دنده لری چې دځنګلونو ساتنی او روزنی ته زیات پاملرنه وکړی او هغه کسان چې په بی رحمی سره د هیواد د ځنګلونو نه جامی را باسی او لغړوی یې دهغوی سره قانونی چال چلند وشی او هغه کسان چې د خپلو شخصی غرضونو له مخې د هیواد د ځنګلونو په وهلو لاس پوری کوی او چارتراش ترینه ترلاسه کوی چې هغه هم دقاچاق په توګه ګاونډ هیوادونو ته لیږدوی هغوی دی د قانون منګلولو ته وسپاری تر څو په راتلونکی کې ټولی ملی ګټی د شخصی ګټو ښکارونه ګرځوی او په دی توګه د هیواد ځنګلونه لا وده وکړی او هیوادوالو ته یې ګټی ورسیږی. کانی مواد چې زموږ د اقتصاد د ملا تیر تشکیلوی د راسپړلو چاری یې د بل هر وخت نه زیاتی ضروری شمیرل کیږی. اوس چې زموږ هیواد د بیا ابادی په حال کې دی نو بیا خو په کار داده چې د کانی موادو را سپړلو ته زیاته پاملرنه وشی او له دی لاری د هیواد کمزوری اقتصاد هم پیاوړی کړی او له بلی خوا به زموږ بی روزګاره خلکو ته د کار کولو زمینی هم برابری کړی وی چې په دی توګه به د زیاتو خپل سریو مخه هم نیول شوی وی او بیا به دی ته زړه ته ښه کوی چې خپل وطنی پیداوار دی د شوکی په نوم له خاورو نه را وباسی او بهرنیو هیوادونو ته دی په ټیټه بیه د قاچاق په توګه ولیږدوی.

دا کار د هیواد د بیا ابادی سره زیاته مرسته کوی او په کار داده چې خصوصی متشبثین او پانګوال ورته خپلی لیچی را ونغاړی د تولیداتو حجم ور زیات کړی او په بهرنیو هیوادونو کې ورته د مارکیټونو په لټه کې شی تر څو دهیواد د اقتصاد څرخونه حرکت پیدا کړی او د پردیو له مرستو نه مو لاسونه لنډ شوی وی.

د افغانستان اقتصادی کمیسیون ته په کار داده چې په دي برخه کې دي موضوع ته د اولیت حق ورکړی او له دغه راز مثمرو پروژو څخه په خپل وخت او زمان کې کار واخلی او ګټی ته یې وسپاری.

ACKU

متصدي: ناصر بشر

# راتلونکی د ځوانانو ده

**ملګری ملتونه:**

## د افغان ماشومانو وضعه خرابه شوې ده



شین ګهیځ دی غواړم دفترته راشم، د څو شیبو لپاره مې ګاډی د سړک څنډې ته ودراوه، یو ماشوم په داسې حال کې چې له سړو یې ټول بدن ریږدي د یخو اوبو سطل یې په لاس او کلک خیری دی چې ګاډی مې ومینځي. کنګل شوې سافي یې زماد ګاډي پر هنداري کیښوده، د ده نوم نصیر احمد و.

یوازې نصیر احمد نه دی چې د ګهیځ په خړه کې له کوره کار پسې راوځي، په زرګونو کمکي ماشومان له سهاره ترنیمو شپو په کوڅو او بازارونوکې په وړ او ناوړه کارونو بوخت دي

دبشري حقوقو د خپلواک کمیسیون د ارزونوپر بنسټ یوازې کابل ښارکې نږدې ۶۰۰۰۰ماشومان په کوڅو او بازارونو کې کارکوي نه یوازې هلکان، ګڼې نجونې هم شته چې کار کوي

ماشومانو سره مرستندویه سازمانونه وايي دکورله چاپیریاله دباندې ماشومان دهیواد په لویو ښارونو اوسرحدي ولایتونو کې په درنو کارونو بوخت دي او دکور په چاپیریال کې دننه بیاډېرماشومان له خپلو پلرونو او مشرانو ورونو سره د پولې، مځکې او نور دراندو کارونه کوي په کوڅو او بازارونو کې ډېرشمیرکارکوونکي ماشومان په فساد ککړ چاپیریال کې کار کوي چې پر دوی د ډول ډول ناوړه کارونو د کولو ترڅنګ، فزیکي اوجنسي تیري هم کیږي د ماشومانو له بې وزلۍ نه په استفادې او یاهم د ډیرو لږو پیسو د ورکړې په بدل کې غیر اخلاقي کارونو ته کش کیږي

د ماشومانو په برخه کې د بشري حقوقو د خپلواک کمیسیون مسئوله هنګامه انوري وايي پر ماشومانو کارکول له بشري حقوقو په ډاګه سرغړونه ده دبشري حقوقو د خپلواک کمیسیون کارکوونکي انوري وايي افغانستان کې دماشوم او د هغه د حقونو لپاره ځانګړی قانون نشته، یوازې عمریې ټاکل شوی

هنګامه انوري وايي ماشوم هغه چاته ویل کیږي چې عمر یې له ۱۸کلونو ښکته وي او دغه ټکی کولای شي مرستندویه موسساتو ته د ماشوم دریځ وټاکي. د هیواد د ښوونې وزارت، دمدني ټولنې او د جزا په قانون کې ماشوم ته اشاره شوې خو په ځانګړې ډول د ماشومانو په اړوند جزئیات نه لري باید ټول قانونونه له سره وکتل شي او د ماشومانو له اړتیا سره سم، قانون جوړ شي د افغانستان د اوسنیو ماشومانو اړتیاوې د تیرو دري لسیزو له اړتیاوو سره توپیر لري،،

د اوسنیو ماشومانو دژوندڅرنګوالي د تیرو دري لسیزو جګړو او اقتصادي کمزورتیا زیږنده ده. افغان دولت د مرستون په مټ بې وزلو ماشومانو سره یو لړ مرستې کړي، خو په ۱۹۹۵ کال کې د آشیانې په نامه جوړه شوې موسسه چې ۲۰۰ کارکوونکي لري، د چارواکو په وینا یې دریو ولایتونوکې ۱۰۰۰۰ماشومانو سره روزنیزې مرستې کړي

د غرمې له خوا یوشمیر کارکوونکي ماشومان دآشیانې ځانګو ته خي ډوډۍ خوري او وروسته له هغه لیک لوست



ورښودل کیږي په اوږدمهال کې بیا ددوی له خوښې سره سم مسلکي زدکړې ورکول کیږي

د ماشومانو په چارو کې دملګرو ملتونو د دفتر یونیسف ارزونې ښیي چې تر پخوا اوس د افغان ماشومانو د ژوندانه کچه ډېره خرابه شوې

افغانستان کې د ماشومانو په چارو کې دملګرو ملتونو د دفتر یونیسف استازی برنت آسن په یوه سرخلاصي لیک کې د ولسي جرګې له غړو نه غوښتنه کړې چې پر افغان ماشومانو زړه وخوږوي او ددوی د ژوندانه د ښه کولو په برخه کې کوټلي ګامونه واخلي. د یونیسف د ارزونو پر بنسټ دوه میلیونه افغان ماشومان د ښوونځي له لومړنیو زدکړو بې برخې پاتې دي او د ورځې ۲۰۰ ماشومان د ډول ډول ناروغیو له امله مري د ملګروملتونو د سر شمیرنو له مخې په نړۍ کې ۲۴۲ میلیونه ماشومان په کوڅو او بازارونو کې کار کوي دغو ماشومانو په هرو شپږو کې یوې په داسې کار بوخت دی چې ددوی پر راتلونکي شخصیت باندې روحي او جسمي اغیز پرېباسي

دا ۲۰۰۲ م کال ته دنړۍ د ماشومانو څرګندونه ده د خوریدلو، کړیدلو، یتیمانو او د هغو ماشومانو چې له سترګو پنا دي، نه دوی اونه یې ستونزې نړیوالو ته ښکاري

دغه نعره په پردۍ ژبه ده، خو د ویر، غم او ژړا ژبه یوه ده.



## زده کوونکي دسږ کال په کانکور کې

هر کال زموږ له دولسمو ټولګیو څخه په زرګونو شاګردان فارغیږي او ځانونه دکانکور دازموینو لپاره تیاروي خو تر کامیاب شوو زده کوونکو څو چنده زیات دکامیابۍ چانس نشي ترلاسه کولی که له یوې خوا موږ ددې وران هیواد دجوړولو لپاره د راتلونکو ځوانو کادرونو رزولو ته اړ یو چې موږ وکړای شو په راتلونکي کې بهرنیو ماهرینو ته له احتیاج څخه خلاص شو خو بله ستونزه دهغو ځوانانو ده چې هغوی دزده کړې په دوره کې دکورنیو له فشار څخه پرته دبیلابیلو نورو عواملو له امله پوره پوهه نه لري دغو کسانو ۱۲ کاله وخت دښوونځي په دوره کې له ګټې اونتیجې پرته ضایع کړی دی او نورو حرفوی زده کړو څخه هم پاتې شوي دي دغه کسان دکورنۍ او ټولنې په اوږو بار پاتې کیږي.

سږ کال په کابل کې دکانکور په دازموینې کې ۴۲۵۷۱ تنو زده کوونکو ګډون کړی وو په پام کې ده چې ۱۲۱۵۱ تنه ونیسي.

دلوړو زده کړو دویاند شاولی الله ادیب دوینا له مخې ۵۰۰۰ کسه به د لوړو زده کړو په نیمه عالی موسسو کې شامل شي نو

که چیرې پورتنی محاسبه سرته ورسیږي نو ۲۵۴۵۰ تنه به سږ کال وزګار پاتې شي او دا وزګار زده کوونکي چې زیات شمیر یې حرفوی زده کړې نه لري ددوی دراتلونکی بوختیا په برخه کې به دځوانانو وزارت څه پروګرام ترلاسه لاندی ونیسی دځوانانو دغه کال په کال زیات والی په داسې حالاتو او شرایطو کې رامنځته کیږي چې له ګاونډیو هیوادونو ایران او پاکستان څخه هم زیات شمیر ځوانان هر کال د مهاجرو په راتګ سره زیاتیږي او هغه هم کومې مسلکی زده کړې نه لري ددې ټولو یوځای والی په مجموع کې دخپل کاروبار دپیدا کولو لپاره مرکزی ښارونو ته راځی او په دې کوچنیو ښارونو کې دګڼې اوګوڼې تراکم کولای شي چې بیلابیلې ستونزې رامنځته کړی چې دداسې ستونزو له منځه وړل به ترافیکی ادارو او ښاروالی ادارو او دغه راز دځوانانو په وزارت او دخفیفه صنایعو او امنیتی ادارو پورې ارتباط پیدا کوی چې له بده مرغه لاتر اوسه پورې په دې برخه کې مخکې له وخت څخه هیڅ اقدام نه دی شوی او څه پروګرام هم ترلاس لاندې نه لری. که چیرې ددغو وزګارو لپاره کار پیدا نه شی او حالات په همدې ډول روان وی ویلای شو چې موږ په خپل هیواد کې دراتلونکی سوکالی دراتلو په برخه کې څه هیله نشو کولای دداسې ګڼې ګوڼې په شته والی سره دبیلابیلو جرمونو درامنځته کیدو او امنیتی سرګردانی اوستونزو زمینه برابریږي چې کنترول یې له ستونزو سره مخ کیدلی شي.



# د روغي جوړي اړتيا!

**دولت وزيري**

تل مې دا هيله کړې چې افغان اولس د احساساتو، کرکې او دښمنۍ پرځای د هوښياری، زغم او اخوت لاره خپله کړي. ملي ګټي وړاندي او شخصي ګټي وروسته وبولي او په ټاکلي، منطقي تناسب کي د هغوي د لاسته راوړلو د پاره کار وکړي. دا هر افغان ته څرګنده شوې چې افغانستان په تيرو دري لسيزو کې د ستري ملي غميزي سره مخامخ شو او د افغان دنړيدلي کور دابادۍ او سمسورتيا هيله په ملي ناورين واوښته. دلته به ضرور ګرم ناګرم وي او بهرني تور لاسونه به د افغانانو تر ستوني پوري رسيدلي وي. زما په اند په داسي حساسو شيبو کي د هيوادوالو تر مينځ د تاوتريخوالي، کرکي او کړکيچ کمول د هر وطنپال افغان په لمړۍ درجه هيوادنيو دندوکي راځي او د روغي جوړي د تامين منطق او اړتيا له همدي ټکي پيل کيږي. د روغي جوړي په شرايطو کې ډيري ستري تيروتني، ان دا چې دهيواد په کچه تيروتني بخښل کيږي او د ټولني د غړو د اطمينان دپاره د سکون او ارامۍ چاپيريال تياريږي. زه چې کله د نړۍ پيژندل شوي راديوګانو، ورځپاڼو، جريدو او ويبپاڼو ته پاملرنه وکړم، څرګنديږي چې د افغان په حال د هر زړه خوږي انسان هيله داده چې د افغانانو په وطن کي دې سوله او ارامي راشي او هغوی ته زمينه برابره شي چې ښيرازه او مدني ټولنه جوړه کړي. يوازي د ګوتو په شمار داسي انسانان او کړۍ شته چې هغوي په افغانانو کي د انتقام اخستني اور ته لمن وهي، خپل زړونه سړوي او زموږ د غم ځپلو هيوادوالو بنياد وباسي. د افغانستان دسولي، بيا جوړوني او د دموکراسۍ د تامين د بهير په اوسنيو شرايطو کي زما نظر دادی:

افغانان يو بل ته تېر شي او د ملي فکتور په توګه د خپل مينځه هيوادنۍ داسي ځواک راوباسي چې د هيواد د جوړولو جوګه وي د دې په څنګ کې د هيواد خلک او په تيره روښانفکران ښايي هغو تورو لاسونو ته پاملرنه وکړي چې د تاريخ په اوږدوکې د دوستۍ او معنوي سپيڅلتيا په ښو په پوره مهارت او کله په غټه سپين سترګۍ را څرګند شوي او په حقيقت کي د افغانستان دخلکو د ملي غميزو د پيل او د هغه د بی رحمه ادامې اصلي عاملين دي. د هيوادنۍ دا ډول موخو د لاسته راوړو اود هغو په ګرد چاپير د لازمو تاکتيکي اقداماتو د کولو د پاره غوره لار هماغه روغه جوړه ده. په دې وروستيو ورځو کې اورم چې په اروپا او د هيواد په دننه کې د افغان يو شمير روښانفکرانو څخه يو لړ پوښتني او ګروېږنې پيل شوي. که دا اقدام د هيواد د ملي غميزي د کورنيو او بهرنيو عاملينو د بې پري راکش کولو او عدالت ته د ټيل وهلو په مانا وي، ښايي زما او د زياتو نورو روښانفکرانو په اند ډير نيمګړی او د شک وړ وي. دلته بايد په يوه رښتيا اعتراف وکړو چې د افغانستان اوږدي کورنۍ جګړي خپل بهرني او ننني عوامل درلودل او د دغې لويي رسوايۍ لوبغاړي تر اوسه د لوبې په ډګر کې ولاړ دي او هر اګاه افغان هغوي درک کولی شي. دا به د انصاف نه لري وي چې په افغاني شخړه کې دې د شخړي يو پلو قاضي شي او د شخړي بل پلو دی عدالت ته راکش کړي. يوازي ملي او نړيوال بې پري قضايي هييت کولی شي د افغانستان د اوږدي جګړي مسولين په ګوته او د عدالت منګولو ته وسپاري. له دې کبله يو ځلي بيا وړانديز کوم چې افغانان بايد په پوره هوښيارۍ په خپلو کې يو موټی شي، بهرنۍ لاسوهنه چې د افغانانو د ملي غميزي د رامينځته کيدو او اوږديدو اصلي عامل دی په زړورتيا او متانت ودروي او د روغي جوړي اړتيا دې تامين کړي.

# دفاع رید از...

آقای رید در گفتگویی با بی بی سی گفت که نیروهای بریتانیا در راستای برنامه های ناتو برای کمک به بازسازی افغانستان و نه تعقیب و جستجوی تروریستها در این کشور استقرار می یابند.

جنوب کشور از مناطق خطرناک در این کشور است. حملات از سوی عناصر وابسته به طالبان و نیروهای اسلامگرای دیگر در این مناطق در حال افزایش است و علاوه بر اینها مناطق جنوبی افغانستان مرکز کشت خشخاش است.

اما مقامات نظامی بریتانیا تاکید می کنند که نیروهای این کشور برای جنگ به جنوب افغانستان اعزام نمی شوند.

قرار است در اواخر سال جاری میلادی ناتو کنترول نیروهای نظامی بین المللی مستقر در جنوب کشور را بر عهده بگیرد. نیروهای آمریکایی مستقر در افغانستان بیشتر در جنوب این کشور مستقر هستند.

آقای رید تاکید کرده است که تفاوت آشکاری بین حفظ صلح و عملیاتهای ضد تروریستی که نیروهای آمریکایی مسئول آن خواهند بود، وجود دارد.

او گفت که البته این احتمال وجود دارد که نیروهای بریتانیایی مورد حمله قرار گیرند، اما افزود که این نیروها تجهیزات و دستورهای لازم برای دفاع از خود را دارند.

اگرچه بطور کل حمایت سیاسی لازم برای استقرار نیروهای بریتانیایی در جنوب افغانستان وجود دارد اما نگرانیهایی نیز موجود است.

در محافل خصوصی برخی از مقامات دولتی اظهار داشته اند که نیروهای ناتو در جنوب کشور که تعدادشان به حدود ۹۰۰۰ نفر می رسد بطور کل نمی توانند کار زیادی انجام دهند اما آنها هدف خوبی برای طالبان و نیروهای تندروهای دیگر در منطقه هستند.

وزیر دفاع بریتانیا روز پنجشنبه (۲۲ جنوری) گفت که تعداد نیروهای بریتانیایی در افغانستان در طول سال جاری میلادی "افزایش چشمگیری" خواهد کرد.

# دريو ښوونځيو...

درې ښوونځيو کې انجونو او هلکانو ګډې زده کړې کولې دغه درې واړه ښوونځی تیر ماخوستن دهلمند ولايت په ناوه ولسوالی کې سوځول شوی دی.

دولت ددې پيښې په اړوند څوك نه دی نيولی خو سيمه ييزو اوسيدونکو د ښوونځيو په سوځولو باندې سخت غبرګون ښودلی دی. چارواکی دښوونځيو سوزول دښوونې او روزنې د دښمنانو کار بولی خو سيمه ييز اوسيدونکی وايی چې د ښوونيزو پيښو ددښمنانو مخنيوی دی وشي يو ښوونځی ته په تيره اونۍ کې په کندهار کې اور اچول شوی وو خو په ټوليز ډول نه و سوزيدلی البته دهلمند دناوه ولسوالی درې واړو ښوونځيو ته زيان رسيدلی دی د ښوونځيو کړکۍ، دروازې، څوکۍ، ميزونه او هلته پراته دينی کتابونه چې د سيمه ييزو وګړو په خبره قرآن شريفونه هم پکې شامل وو سوزيدلی دی که څه هم په دې ورستيو کې په دغه سيمو کې ښوونيز بهير له ګواښ سره مخامخ شوې خو لاهم افغان چارواکو په دې اړوند نور ګامونه نه دی اوچت کړي.

# قطع راه های...

ضخامت برف در بسیاری از مناطق بلند ارتفاع به یک متر تخمین زده میشود رفت و امد مردم را عملاً به مشکل مواجه ساخته است در شهر فیض اباد مرکز ولایت بدخشان بارش دوامدار ازیکسو باعث چکک در خانه های کاه گلی و خامه شده و از سوی دیگر سبب فرو ریختاندن در و دیوار بسیاری از منازل مسکونی گردیده است این در حالیست که اسمان فیض اباد هنوز هم پوشیده از ابر های زیاد وباران است و مردم از دوام بارندگی وشدت سردی نگران اند

# تر ۱۰ کالو پورې...

د امريکا متحد ايالتونه وايي د لندن په راروان کنفرانس کې به افغانستان ته د مالي مرستو يوه لويه مجموعه اعلان کړي.

د افغانستان د پرمختيا لپاره يو پنځه کلن پلان هم دې کنفرانس ته چې د ۷۰ هيوادو استازي به پکې برخه واخلي. وړاندې کېږي.

بل پلو ښاغلي کرزي افغانستان ته د نورو پوځيانو د استولو په اړه د برتانيا د اعلان هرکلی وکړ.

تر دې وړاندې د برتانيې د دفاع وزير جان ريډ چې د سرتېرو د استولو پرېکړه يې اعلان کړې، دا څرګندونې رد کړې چې ګواکې دغه عسکر به د طالبانو او القاعدې د پاتې شونو په لټون بوختېږي.

هغه وويل، برتانوي عسکر به د ياغيانو دهر ډول بريد ځواب وايي، خو په دې سره يې د ماموريت ماهيت نه بدلېږي. دا پوځيان به دافغان پوځ روزونکو ته امنيت، اقتصادي وده او د مرکزي او سيمه ييز سياسي واک پراختيا تامين کړي.

جان ريډ ټينګار وکړ چې د غليم د لټون لپاره د عملياتو ترسره کول د برتانوي ځواکونو اصلي هدف نه دی.

# افغان الوتکې...

دغې الوتکې د عربستان د جدې ښار څخه ۲۲۰ تنه افغان حاجيان کابل ته ليږدول چې ويې نشو کړای د خرابې هوا له امله په کابل کې ناسته وکړي.

ERADA
Daily

اراده
زیرنظر هیات تحریرانتشار میابد اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یك شماره ۳ افغانی
eradadaily@hotmail.com

ACKU